مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲٦۸** (از ۳۱ سنبله الی ۷ میزان ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

### تداوم حملات هوایی کورکورانه در سایۀ سکوت حکومت وحدت ملی

عدم توجه به زندگی مردم در جنگ افغانستان ........ ۴

حملات کورکورانۀ هوایی ........ ۵

نتیجه‌گیری ........ ٦

### د ملګرو ملتونو سازمان درې‌اویایمه غونډه او افغانستان

افغانستان او ملګرو ملتونو سازمان ........ ۸

په ۷۳مه غونډه کې د افغانستان ګډون ........ ۸

په ۷۳مه غونډه کې څه تېر شول؟ ........ ۱۰

## مقدمه

پر افغانستان د امریکا له بریده شاوخوا ۱۷ کاله تېرېږي، خو په دغه جګړه کې د جګړې د ښکېلو لورو جګړهییزې تګلارې په هېواد کې د روانې جګړې د اوږدېدو او په پراخه کچه د ملکي تلفاتو اساسي لامل بلل کېږي. په دې برخه کې د جګړې ټول ښکېل لوري خپل رول لري؛ خو د ملي یووالي حکومت له جوړېدو او د افغانستان لپاره د ډونالډ ټرمپ د نوې پوځي تګلارې له اعلان سره د ملکي وګړو د مرګژوبلې کچه خورا لوړه شوې ده.

د افغانستان لپاره د امریکا د نوې پوځي تګلارې له مخې هوايي بمبارۍ د پخوا په پرتله څو برابره زیاتې شوې دي، چې ډېری مهال په دغه بمباریو کې عام افغانان، د خلکو کورونه، مدرسې او جوماتونه په نښه کېږي. د ملګرو ملتونو د راپور پر بنسټ د ۲۰۱۷م کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله د ۲۰۱۸م کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، په افغانستان کې د هوایي بریدونو له امله د ملکي تلفاتو مرګژوبله ۵۲ سلنه لوړه شوې ده.

دغه راپور داسې مهال خپرېږي چې په تېرو څو ورځو کې یو ځل بیا د افغان او بهرنیو ځواکو په هوايي بریدونه کې د افغانستان په مختلفو سیمو کې د ماشومانو او ښځو په ګډون لسګونه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته.

په افغانستان کې د ړندو بمباریو له امله د ملکي وګړو مرګ ژوبله او راتلونکې پایلې یې هغه موضوعات دي چې د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې مو بحث پرې کړی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه مو د ملګرو ملتونو سازمان درېیم اوېایمې عمومي غونډې ته ځانګړې کړې ده. په دغې غونډه کې له افغانستانه د ملي یووالي حکومت اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله عبدالله د یوه لوړ پوړي دولتي پلاوي په مشرۍ ګډون کړی و. نوموړي غونډې ته له وینا سربېره د دغې عمومي غونډې په څنډو کې د ځینو هېوادونو له مشرانو سره هم وکتل او د افغانستان او سیمې پر اړوند مسایلو یې بحث او خبرې اترې وکړې. له دې ټولو سره داسې ګنګوسې هم شته چې ګواکې ولسمشر غني ځکه دغې غونډې ته نه و تللی، چې ډونالډ ټرمپ له نوموړي سره لیدنه رد کړې وه.

# تداوم حملات هوایی کورکورانه در سایۀ سکوت حکومت وحدت ملی



در جنگ افغانستان از ۱۷ سال به این سو، هدف قراردادن افراد ملکی از سوی طرف‌های درگیر این جنگ، یک امر معمول گشته و به همین دلیل تا کنون ده‌ها هزار فرد ملکی در این جنگ کشته و زخمی شده‌اند.

حملات هوایی و عملیات مشترک شبانۀ نیروهای افغان و خارجی، همواره یک بخش بزرگی از تلفات ملکی را موجب شده است. تازه هفتۀ گذشته بر اثر عملیات شبانه و بمباردمان نیروهای مشترک (افغان و خارجی) در قریۀ ملاحافظ ولسوالی جغتو ولایت میدان وردگ ۱۴ غیر نظامی که اکثریت آن‌ها نیز زنان و کودکان بودند، کشته شدند. همزمان با این در اثر حملۀ هوایی نیروهای خارجی بر مراسم عروسی در ولسوالی تگاب ولایت کاپیسا ۱۸ غیر نظامی دیگر نیز کشته شدند. چند روز قبل نیز در عملیات مشترک نیروهای افغان و خارجی در ولایت‌های پکتیا و ننگرهار ۲۹ غیرنظامی افغان کشته و ۱۴ تن دیگر زخمی شده بودند.

هرچند کشتار افراد ملکی در حملات اخیر نیروهای افغان و خارجی با واکنش حامد کرزی، رییس جمهور پیشین افغانستان، گلبدین حکمتیار رهبر حزب اسلامی، برخی اعضای شورای ملی و مردم عام رو برو شده است و آن را جنایت بشری خوانده‌اند؛ اما وزارت دفاع ملی افغانستان تلفات افراد ملکی در ولسوالی جغتو را تأیید نکرده، ولی گفته است که در مورد حادثه تگاب یک هئیتی تعین شده و موضوع را بررسی خواهد کرد!

حکومت افغانستان در حالی از تلفات زنان و کودکان در ولسوالی جغتوی میدان وردگ انکار می‌کند که هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) نیز با نشر اعلامیه‌ای تاکید کرده است که در حادثۀ جغتو، به شمول یک زن و ۱۱ کودک تمام اعضای یک خانواده کشته شده‌اند.

افزایش حملات هوایی نیروهای خارجی بخشی از استراتیژی جدید دونالد ترامپ برای افغانستان می‌باشد، اما بدون افزایش تلفات ملکی و تشدید جنگ، نتیجۀ دیگری در پی نداشته است.

عدم توجه به زندگی افراد ملکی در جنگ، چگونگی هدف قراردادن خانه‌های مردم در حملات هوايي و این که سکوت حکومت و جامعۀ بین‌المللی در برابر کشتار غیر نظامیان، چه پیامدهایی را در پی خواهد داشت؟ از موضوعاتی اند که در این تحلیل مورد بحث قرار گرفته است.

## عدم توجه به زندگی مردم در جنگ افغانستان

در سال ۲۰۰۱ م زمانیکه نیروهای امریکایی و نیروهای ایتلافی با انجام حملات خود بر خاک افغانستان جنگ کنونی را آغاز کردند، از همان روز تا اکنون با گذشت ۱۷ سال، تمام طرف‌های درگیر در این جنگ، خلاف تمام اصول بین‌المللی جنگ، اندکی هم به زندگی غیرنظامیان توجهی نکرده‌اند.

در جنگ افغانستان از یک سو در حملات و انفجارهای مرگبار مخالفین مسلح دولت افراد ملکی کشته و زخمی می‌شوند و از سوی دیگر در عملیات نیروهای افغان و خارجی هدف قرار می‌گیرند. در طول ۱۷ سال گذشته طرفین درگیر جنگ هر کدام به دلیل عدم توجه به زندگی مردم، همواره مرتکب هدف قراردادن افراد ملکی شده‌اند.

در سال‌های اخیر بخصوص بعد از اعلام استراتیژی جدید امریکا برای افغانستان، راهکار جنگی این کشور بیشتر روی حملات هوایی و عملیات شبانه متمرکز شد؛ اما از سوی دیگر طالبان نیز جنگ را به حالت تهاجمی به پیش گرفتند و هر بار به شکل گروهی بر شهرهای بزرگ افغانستان حمله نمودند، علاوه از این گروه داعش بر حملات "انتحاری" و انفجارهای مرگباری در مکان‌های مختلفی دست می‌زنند که هر کدام آن‌ها باعث افزایش تلفات ملکی و کشتار غیر نظامیان شده است.

طرف‌های درگیر جنگ برای هدف قرار دادن دشمن خود، طبق معمول جان چندین غیرنظامی را نیز می‌گیرند و به همین دلیل در این جنگ تلفات افراد ملکی بیشتر است. در حال حاضر وضعیت افغانستان به اندازه وخیم‌تر شده است که مردم عام نه در شهر و نه هم در خانه‌های خویش در مناطق دوردست احساس امنیت کرده می‌توانند. در شهر از حملات و انفجارهای مخالفین مسلح دولت و در مناطق دوردست و قریه‌جات از عملیات شبانه و حملات هوایی کورکورانه نیروهای افغان و خارجی در امان نیستند و این همه، مواردی اند که زندگی را برای مردم افغانستان دشوار ساخته است.

## حملات کورکورانۀ هوایی

در کل بعد از سال ۲۰۱۴م و امضاء شدن پیمان امنیتی کابل ـ واشنگتن، با آنکه در ظاهر نیروهای خارجی از میدان جنگ خارج شدند؛ اما آنان حملات هوایی خویش را هرچندگاهی انجام می‌دادند که پس از اعلام استراتیژي جدید نظامی امریکا برای افغانستان، این حملات هوایی نیروهای خارجی چند برابر افزایش یافت و در موارد متعدد افراد ملکی را مورد هدف قرار داده‌اند. بر بنیاد گزارش‌ها، در سال ۲۰۱۷م نیروهای امریکایی در افغانستان ۲٦۱۱ حمله هوایی انجام داده‌اند، در حالیکه این رقم در سال ۲۰۱٦ م ۱۰۷۱ و در سال ۲۰۱۵م تنها ۲۳٦ حمله بود.

هر چند که در سال ۲۰۱۸م تا اکنون رقم دقیق حملات هوایی نیروهای خارجی و یا هم نیروهای افغان ـ خارجی معلوم نیست، اما به دلیل این‌که در سال‌های اخیر طالبان در میدان جنگ بگونۀ تهاجمی حمله می‌کنند و نیروهای افغان و خارجی برای دفع این حملات بیشتر از حملات هوایی کار می‌گیرند، گفته می‌توانیم که ممکن رقم حملات هوایی در جنگ افغانستان افزایش یافته باشد؛ ولی در رابطه به تلفات ملکی ناشی از حملات هوایی، در گزارش اخیر یوناما گفته شده: در شش ماه نخست سال ۲۰۱۸میلادی ۵۱۲۲ فرد ملکي در افغانستان کشته و زخمی شده‌اند که در این میان ۷ درصد آن به حملات هوایی نیروهای خارجی و افغان نسبت داده شده است (۱۴۹ کشته و ۲۰۴ زخمی).

حملات هوایی نیروهای خارجی همواره به جای اینکه مخالفین مسلح در آن هدف قرار داده شوند، باعث کشتار غیر نظامیان و یا هم هدف قراردادن مدارس دینی و خانه‌های مردم می‌شود. این کشتار غیر نظامیان همیشه با سکوت جامعه جهانی و سران دولت افغانستان روبرو می‌شود و یا هم بعضی اوقات بعد از کشته شدن افراد ملکی، نیروهای خارجی با جمله «اشتباه صورت گرفته است»، جواب خون مردم بی‌گناه را می‌دهند.

در کل با آنکه در جنگ جاری نیروهای خارجی از عاملین مهم تلفات ملکی در افغانستان محسوب می‌شوند و شمار زیاد از افراد ملکی در حملات هوایی نیروهای خارجی در افغانستان کشته می‌شوند؛ اما از یک‌سو هر بار یوناما در گزارش‌های سالانۀ خود فیصدی غیر باور کردنی و اندکی از تلفات افراد ملکی را به نیروهای خارجی در افغانستان منسوب می‌کنند و از سوی دیگر رهبران حکومت وحدت ملی نیز بر تلفات ملکی در بمباردهای نیروهای خارجی سکوت اختیار کرده‌اند.

## نتیجه‌گیری

در طول ۱۷ سال گذشته در جنگ افغانستان، تحت عنوان مبارزه با تروریزم هدف قراردادن خانه‌های افراد ملکی و کشتار زنان و کودکان معصوم بصورت معمول تحت عنوان "اشتباه" و یا "خطا" هربار بدون این که عاملین آن مجازات شوند و مورد پیگرد قانونی قرار گیرند، به فراموشی سپرده شده است.

تداوم و تکرار همچو حملات از یک سوی باعث ایجاد فاصله میان حکومت و مردم می‌شود و از سوی دیگر به طور عموم کشتار افراد بی‌گناه ملکی در کنار واکنش‌های تند، نفرت مردم را در برابر مرتکبین چنین رویدادها نیز برمی‌انگیزد و در تداوم جنگ در کشور نقش برازنده دارد.

این که در جنگ، کشتار کودکان و زنان و یا هم بطور کل هدف قراردادن افراد بی‌گناه ملکی بر خلاف تمام اصول انسانی و اسلامی می‌باشد، دولت افغانستان و جامعۀ جهانی مکلف اند تا هر چه زودتر برای جلوگیری از همچو حملات کورکورانۀ نیروهای افغان و خارجی اقداماتی لازمی را در پیش گیرند.

در رابطه به حوادث بی‌رحمانۀ اخیر نیاز است که حکومت وحدت ملی به جای سکوت بی‌معنا و یا انکار از وقوع این جنایات، آنرا پیگیری نموده و مرتکبین آنرا مجازات نماید. در کنار این، عوامل آن نیز عمیقا بررسی گردد تا از تکرار چنین حملات بی‌رحمانه در آینده جلوگیری شود. در غیر آن، برخورد کنونی حکومت با چنین حوادث جز تقویت صفوف مخالفین مسلح دولت ثمرۀ دیگری در پی نداشته و نخواهد داشت. در کل، نیاز است که دولت افغانستان بجای تشدید جنگ و کشتار افراد ملکی، به گونۀ واقعبینانه روی گفتگوهای صلح و چگونگی پایان دادن به جنگ خونین جاری تمرکز نموده و از تلفات روزانۀ ده‌ها افغان جلوگیری نماید. پایان

# د ملګرو ملتونو سازمان درېاوياېمه غونډه او افغانستان



تېره اونۍ په نيويارک کې د ملګرو ملتونو سازمان درېاوياېمه غونډه جوړه شوه، چې د نړۍ د نورو هېوادونو ترڅنګ له افغانستانه هم د ملي يووالي حکومت اجرائيه رئيس داکټر عبدالله عبدالله د يوه لوړ پوړي دولتي پلاوي په مشرۍ پکې ګډون کړی و.

په دې غونډه کې د غړو هېوادونو د مشرانو او استازو ترمنځ د نړۍ په کچه پر بېلابېلو ګرمو موضوعاتو بحثونه وشول. د غونډې په دويمه ورځ د افغانستان اجرائيه رئيس ډاکټر عبدالله هم وينا وکړه او په خپلو خبرو کې يې د سولې او ثبات لپاره پر ګډو سيمه‌ييزو همکاريو ټينګار وکړ. نوموړي له ګاونډيو هېوادونو په ځانګړې ډول له پاکستانه وغوښتل چې له افغانستان سره د "ترهګرو" په نښه کولو کې مرسته وکړي او په ګډه د هغوی پټنځايونه له منځه يوسي.

په دې غونډه کې د ملګرو ملتونو سازمان سرمنشي، آنتونيو ګوترش د پيل په خبرو کې وويل، چې نړيواله ټولنه له سترو ننګونو سره مخ ده او په نړيواله کچه کړکېچ هم زيات شوی دی. نوموړي دغه راز وويل، چې پر نړيوالو بنسټونو هم باور کم شوی او مونږ د امنيت نړيواله شورا کې د دوه‌قطبيتوب شاهدان يو.

د افغانستان په قضيه کې د ملګرو ملتونو سازمان رول، د دغه سازمان په وروستۍ ناسته کې د ډاکټر عبدالله ګډون او دا چې په دې غونډه کې څه تېر شول؟ هغه موضوعات دي چې دلته پرې بحث شوی دی.

## افغانستان او ملګرو ملتونو سازمان

د ملګرو ملتونو سازمان له دویمې نړیوالې جګړې را وروسته د ۵۱ هېوادونو له لوري په ۱۹۴۵م کال کې رامنځته شو او افغانستان یې په ۱۹۴۶م کال کې رسمي عضویت ترلاسه کړ. په ۲۰۰۶م کال کې د دغه سازمان د غړو هېوادونو شمېر ۱۹۳ ته ورسېد؛ خو تایوان او واتیکان هغه دوه هېوادونه دي، چې د دغه سازمان غړیتوب نه لري.

د ملګرو ملتونو سازمان له ۱۹۷۹م کال وروسته، پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد پر یرغل د یوه پرېکړه‌لیک په صادرولو سره اعتراض وکړ، دغه راز په افغانستان کې د شوروي اتحاد له یرغل وروسته وضعیت ته په کتلو سره بیا د دغه سازمان یو شمېر بنسټونو دلته خپل فعالیتونه هم پیل کړل. د "ژنیو" هغه هوکړه‌لیک چې په ۱۹۸۸م کال کې لاسلیک شو او د شوروي اتحاد لښکرو ته یې له افغانستانه د وتلو زمینه برابره کړه، هم د ملګرو ملتونو سازمان د هڅو پایله وه.

له افغانستانه د شوروي اتحاد د لښکرو له وتلو وروسته، د کورنیو جګړو پر مهال د ملګرو ملتونو سازمان هڅه وکړه، چې په افغانستان کې د دغو جګړو مخه ونیسي؛ خو کومه پایله یې ونه لرله. د طالبانو د رژیم پر مهال یې هم هڅه وکړه، چې د شمالي ټلوالې او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو زمینه برابره کړي؛ خو دغو هڅو هم کومه مثبته پایله ورنه کړه.

په ۲۰۰۱م کال کې د طالبانو د رژیم له ړنګېدو او د امریکا په همکارۍ د نوي نظام په رامنځته کېدو سره، دغه سازمان په افغانستان کې خپل فعالیت پراخ کړ. د اداري سیستم له رامنځته کولو نیولې بیا د لویې جرګې تر تدویره او ټاکنو ترسره کېدو، دغه سازمان بېلابېل ماموریتونه ترسره کړل؛ خو د ۱۷ کلونو په تېرېدو سره لا هم افغانستان له سیاسي، اقتصادي او امنیتي بې‌ثباتۍ سره مخ دی او په افغانستان کې د دغه سازمان ماموریتونو او کړنو ته په کتلو سره، د افغانستان په قضیه کې د دغه سازمان پر رول نیوکې شته دي.

## په ۷۳مه غونډه کې د افغانستان ګډون

د ملګرو ملتونو سازمان په ۷۳مه غونډه کې د ولسمشر غني نه ګډون او پر ځای یې دغې غونډې ته د اجرائیه رئیس ورتګ، داسې ګنګوسې راپورته کړې دي چې د ولسمشر غني او ډونالډ ټرمپ د اداري ترمنځ په اړیکو کې د بې‌باورۍ پر شتون شکونه راپیدا کوي.

د پژواک خبري اژانس لهخوا په یوه خپاره شوي راپور کې د یوې کره حکومتي سرچینې له قوله ویل شوي: «ټاکل شوې وه چې ولسمشر غني د ملګرو ملتونو په ۷۳مه غونډه کې ګډون وکړي او د دې ناستې په یوه برخه کې له ډونالډ ټرمپ سره ووینې؛ خو سره له دې چې په همدې موخه د ملي امنیت د سلاکار حمدالله محب په مشرۍ یو افغان پلاوی امریکا ته تللی و، خو ټرمپ له افغان ولسمشر سره لیدنه رد کړې او ویلي یې وو، چې له اشرف غني سره به د نومورې مرستیال مایک پنس لیدنه وکړي.» سرچینه وایي، له همدې امله ولسمشر غني د ملګرو ملتونو سازمان په وروستۍ غونډه کې ګډون ونه کړ.

که څه هم ارګ او بهرنیو چارو وزارت دغه څرګندونې بېبنسټه بللې دي؛ خو دا چې ډونالډ ټرمپ د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډې ته په خپله وینا کې د افغانستان په اړه حتی یوه خبره هم ونه کړه، په اړه یې شکونه زیات شول.

په افغانستان کې له تېرو ۱۷ کلونو څخه د امریکا روانه جګړه په اوسمهال کې له یو ډول ابهام او ناکامۍ سره مخ ده. امریکا له ۲۰۰۱م کال راوروسته د همدې جګړې د ګټلو په موخه بېلابېلې تګلارې وکارولې؛ خو تر دې دمه یې یوازینۍ لاسته راوړنه دا ده، چې جګړه روانه ساتل شوې ده.

امریکا پر افغانستان له یرغل راوروسته د یوه نوي حکومتي نظام د رامنځته کولو په موخه تر دغه مهاله میلیاردونه ډالر له افغانستان سره مرسته وکړه؛ خو لا هم دغه هېواد له سیاسي، اقتصادي او امنیتي بېثباتۍ سره مخ دی او د اداري فساد له امله د نړۍ د فاسدو هېوادو په سر کې دی.

دغه وضعیت ته په کتلو سره په وروستیو کې ډونالد ټرمپ زلمی خلیلزاد د افغانستان لپاره خپل ځانګړی استازی وټاکه، ترڅو په افغانستان کې له روان مبهم وضعیت څخه د وتلو لار ومومي. ډېرې شونګې په دې اند دي، چې د ټرمپ اداره د ملي یووالي حکومت له کړنو نا خوښه ده. ځکه وضعیت دومره خراب شوی، چې یو شمېر سیاسي احزاب، پخواني حکومتي چارواکي او ملي شورا له امریکا سره د شوي امنیتي تړون پر بیا کتنې ټینګار کوي او دا هغه مسئله ده، چې امریکا یې په هیڅ بیه نه مني. داسې انګېرل کېږي، چې په افغانستان کې د وضعیت د مبهمۍالي له امله ټرمپ د افغانستان له رهبرانو سره نه ګوري. ځکه دوی هم د افغانستان د وضعیت په اړه مشخص تصویر او تګلاره نومورې ته نه شي وړاندې کولی.

## په ۷۳مه غونډه کې څه تېر شول؟

د ملګرو ملتونو سازمان په ۷۳مه غونډه کې د امریکا د ولسمشر دونالډ ټرمپ خبرې، د زیاتره رسنیو د خبرونو سرټکي شول. نوموړي غونډې د وینا پر مهال ایران هغه هېواد وباله، چې د منځني ختیځ په لر او بر کې یې د «وژنو، ګډوډیو او ورانکاریو» تخم کرلی دی. نوموړي ایران هغه هېواد وباله، چې «نه خپلو ګاونډیانو، نه پولو او نه هم د نورو هېوادونو ملي حاکمیت ته درناوی کوي.»

ډونالډ ټرمپ د امنیت شورا په غونډه کې هم پر ایران او روسیې تور پورې کړ، چې ګواکې دغه هېوادونه په سوریه کې د خلکو په عاموژنه کې لاس لري. نوموړي پر چین هم نیوکه وکړه او یې ویل، چې دغه هېواد غواړي د امریکا په راتلونکو ټاکنو کې د جمهوري غوښتونکو د بریا د مخنیوي په پار لاسوهنې وکړي. ټرمپ دغه راز وویل چې نوموړی د امریکا لومړنی ولسمشر دی، چې د سوداګرۍ په برخه کې یې چین ننګولی دی.

د ملګرو ملتونو په وروستۍ عمومي غونډه کې په سوریه، یمن او فلسطین کې د روان وضعیت په اړه هم خبرې وشوې؛ خو په دغه غونډه کې تر ټوله پیکه موضوع چې د امریکا ولسمشر دونالډ ټرمپ هم په خپلو خبرو کې اشاره ورته ونه کړه، د افغانستان قضیه وه.

د افغانستان اجرائیه رئیس داکتر عبدالله که څه هم د ملګرو ملتونو  سازمان د عمومي غونډې په دویمه ورځ وینا وکړه؛ خو په دغه وینا کې داسې څه چې ریښتیا هم د نړیوالو پام د افغانستان قضیې ته زیات کړي، نه لیدل کېږي. نوموړي د افغان دولت او وسله‌والو مخالفینو ترمنځ د سولې په اړه داسې خبره وکړه، چې د سولې په تړاو د حکومت د کمزورۍ ارادې ښودنه کوي. دغه راز د سیمه‌ییزو قضیو په اړه یې هم داسې څه بیان نه کړل، چې د نړیوالو پام واړوي.

د ملګرو ملتونو سازمان د ۷۳مه غونډې په څنډو کې اجرائیه رئیس د ایران له ولسمشر حسن روحاني سره وکتل او دواړو لورو له ترهګرۍ سره پر ګډې مبارزې ټینګار وکړ. روحاني د تهران او کابل ترمنځ د جامع همکړه‌لیک د نهایي کولو غوښتونکی شو او ویې ویل، هېواد یې چمتو چې چابهار بندر کټې اخیستنې ته وسپاري او د افغانستان تر پولې د اورګاډي پټلۍ ورسوي.

ډاکټر عبدالله د ملګرو ملتونو سازمان له سرمنشي سره هم وکتل او نوموړي ته یې ډاډ وکړ، چې له بایومټریک څخه په استفادې، له رڼو او با اعتباره ټاکنو به ملاتړ کوي. د ملګرو ملتونو سرمنشي هم ټینګار وکړ چې د رڼو او با اعتباره ټاکنو ترسره کول کولای شي، چې په افغانستان کې د سیاسي ثبات له ټینګښت سره مرسته وکړي.

نوموړي په دغه لیدنه کې ووېل، چې د افغانستان او له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې تر اوسه د پاکستان په سیاستونو کې بدلون نه دی راغلی او ټینګار یې وکړ، چې له اوسنیو ستونزو څخه د وتلو یوازینۍ لاره د افغانستان او پاکستان ترمنځ رښتینې همکاري ده. د ملګرو ملتونو سازمان سرمنشي ډاکټر عبدالله ته د پوره همکارۍ ډاډ وکړ او ویې ویل چې زموږ موخه په افغانستان کې د سولې او ثبات ټینګښت دی.

اجرائیه رئیس دغه راز د مرکزي او سویلي اسیا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له مرستیالې سره ولیدل. په لیدنه کې دواړو لورو د افغانستان د سولې په خبرو اترو، د افغانستان په سیمه‌ییزو اړیکو، د هېواد په امنیتي وضعیت او نورو مهمو مسایلو خبرې وکړې.

له دې ټولو سره سره، اجرائیه رئیس د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي غونډې په څنډه کې د ډنمارک او بلجیم له لومړي وزیرانو سره لیدنې وکړې او دواړو لورو ترمنځ د اړیکو په پراختیا ټینکار وشو.

پای

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com